
# ځانګړی راپور: په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو وژنه

## ۲۰۱۸-۲۰۲۱



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

فبروري ۲۰۲۱

***"افغان‌وګړي یوې داسې ښېرازه مدني چاپېریال – یوې ټولنې ته اړتیا لري او مستحق دي، چېرې چې خلک له کومې وېرې پرته په ازاد ډول فکر کولی شي، لیکل کولی شي او خپلې نظرېې څرګندولی شي. د بشري حقونو د مدافعینو او رسنیو غړونه د یوې پرانیستې او ښایسته ټولنې لپاره حیاتي دي. داسې یو مهال چې د خبرو اترو او سیاسي حل له لارې ډیالوګ او د جګړې پای ته رسول باید د تمرکز ټکی وي، د بشري حقونو د مدافعینو او رسنیو غړونه د دې پر ځای چې خاموش کړای شي باید د بل هر وخت په پرتله ډېر واورېدل شي."***

**-- دیبورا لاینز**

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو دسرمنشي ځانګړې استازې

*د پوښتي انځور: یوناما/فرشته دنیا*

# سریزه

د بشري حقونو د مدافعینو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي، د سوله ییزو غونډو او ټولنو د حقونو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي او د نظر او بیان ازادي د ځانګړي راپور ورکوونکي په څیر، موږ په افغانستان کې د ۲۰۱۸ کال له جنوري څخه د ۲۰۲۱ کال تر جنوري پورې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کارکوونکو د وژنې په اړه د راپور هرکلی کوو.

د بشري حقونو وژنه په نړیواله کچه د اندېښنې وړ یوه موضوع ده څرنګه چې دا د بشري حقونو شورا ته زموږ د صلاحیتونو/ماموریتونو د وروستي راپور، "وروستی اخطار: د بشري حقونو مدافعینو ته د مرګ ګواښونه او وژنې" له خوا په ډاګه شوې. دغه راپور د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر له خوا موندنې په ډاګه کوي، چې د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۹ کلونو ترمنځ په ۶۴ هیوادونو کې ټولټال ۱۳۲۳ د بشري حقونو مدافعین وژل شوي.[1]

د مدني ټولنې د فضا پر وړاندې تر دې زیات مستقیم بریدونه نشته لکه کوم چې د بشري حقونو د مدافعینو د وژلو له لارې تر سره کېږي، یوه داسې سره کرښه چې هیڅ دولت یا نا دولتي فعال یې باید کله هم ماته نه کړي. په افغانستان کې په تیره درې کلنه موده کې څرنګه چې دغه راپور یې ښکارندوی دی، د بشري حقونو مدافعین په زیاتیدونکي ډول له هدفي بریدونه سره مخ شوي او وژل شوي، کوم څه ته چې په هیواد کې د بشري حقونو د غښتلي کولو او د بشري حقونو د سرغړونو د غندنو لپاره د دوي د کار د مخنیوي په موخه د همغږي شوې هڅې په څیر کتل کیږي.

افغانستان د خبریالانو لپاره په نړۍ کې یو تر ټولو خطرناک هیواد ګڼل کیږي. د خبریالانو وژنه د رسنیو پر خپلواکۍ برید دی. د رسنیو ازادي او د خبریالانو خوندیتوب د بیان د ازادۍ د بنسټیز حق خورا مهم اړخونه شمیرل کیږي. دا یو فردي خو همدارنګه یو جمعي حق دی، ځکه چې دغه حق ولسواکۍ او پایښت لرونکې پراختیا ته د ودې ورکولو لپاره، معلوماتو ته د لاس رسي او په سوله ییز ډیالوګ کې د ګډون د تسهیل له لارې په ټولیز ډول ټولنه ځواکمنه کوي. کله چې له معافیت سره مل خبریالان وګواښل او په نښه شي، دا د دغه کار عاملین هڅوي او په رسنیو کې د ویرې او ځاني سانسورونې چاپیریال رامنځ ته کوي. په لا پراخ ډول، دا په عامه چارو کې د ډیموکراتیکو مباحثو او عامه ګډون مخه نیسي. د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ، د ملي امنیت شورا او د بشري حقونو شورا په مکرر ډول پر دې اړتیا ټینګار کړي چې د خبریالانو خوندیتوب ډاډمن شي، د هغوي وژنه یې غندلې او پر دولتونو یې غږ کړی چې اړوند جرمونه وڅیړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.

موږ د یوې پرمختللې او غښتلې ټولنې لپاره په ځلونو او کراتو د مدني ټولنې د فضا اهمیت په ډاګه کړی. د بشري حقونو شورا ته په تر ټولو وروستي راپور کې موږ د دې یادونه کړې چې جنګ جګړو د انتقالي عدالت بهیرونه له ناکامۍ سره مخ کړي او مخ پر زیاتیدو افراطیت د راغونډیدو او ټولنو د ازادۍ پر حقونو او دغه راز په پراخه کچه پر مدني چاپیریال منفي اغیز کړی. د خبریالانو او بشري حقونو د مدافعینو وژنې پر مدني چاپیریال او همدارنګه د افرادو او ادارو پر ارادو چې سره راغونډ شي او په ازاد ډول خپلې نظریې او اندېښنې په ډاګه کړي د پام وړ ویرونکی اغیز لري.

[1] د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکې ماری لالور راپور: وروستی اخطار: د بشري حقونو مدافعینو ته د مرګ ګواښونه او وژنې، د ملګرو ملتونو سند A/HRC/46/35 ۲۴ ډسمبر ۲۰۲۰ کال، ۴-۵ پاراګرافونه

موږ په دغو ډراماتیکو پېښو کې د متداول معافیت د شتون په اړه په ځانګړي ډول اندېښمن یو. له هرو ۱۰ په ۹ پیښو کې د دغه ډول تاوتریخوالو او تیریو لپاره معافیت په بشپړ ډول و. په داسې حال کې چې د دغو جرمونو لپاره د عدالت په تامین کې پاتې راتلل د مختلفو لاملونو له امله توضیح کیدای شي لکه تهدید، ویره، پر قضايي سیستم نا قانونه نفوذ، او معافیت د تاوتریخوالي دوره دوامداره کوي. موږ د نړیوالې همکارۍ او د خبریالانو د خوندیتوب او د معافیت د موضوع په اړه د ملګرو ملتونو د عمل پلان (د ملګرو ملتونو د عمل پلان) په قرینه کې په ګډون په کوم کې چې موږ په فعال ډول دخیل یو، د ساتنې د ملي میکانیزمونو د غښتلي کولو له لارې دغو تاوتریخوالو ته د ځواب ویلو له ملي او نړیوالو هڅو څخه ملاتړ ته ژمن یو.[2]

په یوه داسې زمینه کې چیرې چې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او مدني ټولنې د سازمانونو کار د پخوا په پرتله خورا اړین وي او په هم مهالې ډول د دغه خورا مهم کار لپاره د بریدونو هدف ګرځول شوي هم وي، په دغه راپور کې د یوناما په ډاګه شوې موندنې په ځانګړي ډول د پام وړ دي. په افغانستان د بشري حقونو له سازمانونو سره په وروستیو سلا مشورو کې، هغوی په مستقیم ډول په دې اړه معلومات ورکړل چې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو د مدني ټولنې د نورو فعالینو وژنو څرنګه د ویرې یو داسې محسوس چاپیریال رامنځ ته کړی چیرې چې د بشري حقونو د ودې او د دغو حقونو د سرغړونو د غندنې لپاره د هغوی هڅې له خنډونو سره مخ کړي. په بله وینا، دغو بریدونو د سوله ییزو، عادلانه، مساوي او ټول شموله ټولنو د رامنځته کولو لپاره د هغوی نه ستړې کیدونکې هڅې کمزورې کوي.

دغه راپور په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو او د رسنیو د کارمندانو د ثبت شویو وژنو په شمیر کې په زیاتوالي رڼا ښیندي. تر دې د لا زیاتې اندېښنې وړ دا ده چې راپور دا په ډاګه کوي چې دغه وژنې وار د مخه پلان شوې او هدفي بریښي. د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو وژنې اوس په مسقیم ډول د لوړ شمیر ملکي تلفاتو درلودونکې د هغو بریدونو په زمینه کې نه رامنځ ته کیږي چې په افغانستان کې ولسي وګړي اغیزمن کوي. بلکې هغوی د هغو عمدي بریدونو چې د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو په وړاندې د هغوی د کار او په مدني ټولنه کې د هغوی حضور او ګډون له امله ترسره شوي، وژل کیږي. د پخوا په خلاف، د دغو وژنو مسوولیت نه اخیستلو یا نه اعتراف د ویرې چاپیریال لا پسې ناوړه او یوه بې سابقه بهیر رامنځ ته کوي، څرنګه چې یې په اړه په دې راپور کې مفصل معلومات وړاندې شوي.

د دغو وژنو لپاره د احتساب نشتون، څرنګه چې د دغه راپور له خوا په ډاګه کیږي، یو داسې چاپیریال رامنځ ته کړي په کوم چې د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارمندان ځاني سانسورونې او آن په ځینو نورو هغو کې د تاوتریخوالي د ګواښ او دوامداره ناامنۍ له امله د هیواد پرېښودو ته اړ شوي. دا وضعیت د منلو وړ نه دی.

خبریالان او د بشري حقونو مدافعین نه باید د بشري حقونو د دفاع او ودې لپاره په نښه یا ووژل شي، او د دغو پېښو مسوول عاملین باید د عدالت منګولو ته وسپارل شي.

د ټولنې هره برخه د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کارمندانو د کار له ګټې څخه برخمنه کیږي. اوس د دې وخت دی چې له افغان ټولنې او هغو هڅو سره د هغوی د قانوني او


[2] وګورئ، https://www.ohchr.org/EN/Issues/SafetyOfJournalists/Pages/SafetyOfJournalists.aspx.

خورا مهمې ونډې قدرداني وشي، څو په هیواد کې سوله او پایښت لرونکې پراختیا رامنځ ته کړي.



**ماری لولر**

د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی



**کلمنت نیالیتسوسی فولی**

د سوله ییزو غونډو او ټولنو د ازادۍ د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی



**ایرین خان**

د نظر او بیان د ازادۍ د حقونو د ساتنې ودې ورکولو په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی

# د مطالبو فهرست

**د راپور لنډیز** ........ 7
د افغان د سولې د مذاکراتو پیل ........ 10
پر مدني ټولنې باندې ډارووونکې اغیزه ........ 10
**سپارښتنې** ........ 12
د افغانستان حکومت ته ........ 12
غیر دولتي عناصرو ته ........ 12
طالبانو ته ........ 12
نړیوالې ټولنې ته ........ 12
**پیژندنه** ........ 14
**صلاحیت او میتودولوژي** ........ 16
**په ۲۰۱۸-۲۰۱۹ کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژونالستانو او د رسنیو کارکوونکو وژنه** ........ 18
۲۰۱۸: عمومي کتنه ........ 18
۲۰۱۹: عمومي کتنه ........ 20
**په ۲۰۲۰ کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او رسنیو کارکونکو وژنه** ........ 22
۲۰۲۰ کال: عمومي کتنه ........ 22
**د ۲۰۲۰کال د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او رسنیو کارکونکو وژنه** ........ 25
**لومړۍ ضمیمه: د نړیوال بشري حقونو معیارونه** ........ 27
**دویمه ضمیمه: ملي چوکاټ** ........ 31
**دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې** ........ 33


# د راپور لنډیز

د ۲۰۲۰ کال په پای کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو، قاضیانو، څارنوالانو، دیني عالمانو، روغتیایي کارکوونکو، سیاسي شنونکو، ملکي کارکوونکو او نور ملکي کسانو هدفي وژنې زیاتې شوې. د افغانستان د سولې د خبرو د پیل کیدو وروسته، د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر ۱۲ نېټه، ۱۱ تنه د بشري حقونو مدافعین او خبریالان وژل شوي دي. دغې پدیدې پر مدني ټولنو باندې ډارونکې اغیزه پرېښوده چې له امله یې زیات شمېر د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارکوونکې په دې لټه کې شول چې خپل هیواد افغانستان پرېږدي. د دې اغېزې د افغانستان پر خلکو او ټولنو باندې ورانونکې دي – یاد مرګ ژوبلې د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو شمېر کم کړی، او د ناامنۍ او تاوتریخوالي ګواښ ددې سبب شو چې یو شمېر هغه ځان – سانسورۍ او یو شمېر نور یې هیواد پرېښودلو ته اړ کړیي. دغه پدیده په داسې یو وخت کې واقع شوه چې فعال، ګډونکونکې او ننګونکې کسانو ته خورا اړتیا وه؛ دغه پدیده د ټولنې ګوټ ګوټ ته د انګازې ډک پیغام استوي، او د سولې لپاره هڅو کې د خلکو باور او هېله کموي.

په افغانستان کې د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارکوونکې، د خپل کار د ماهیت له امله، د زیاتو کلونو راهیسې د زیات شمېر بیلابیل خطرونو سره مخ دي. د افغانستان ولس ته پر وخت معلومات وړاندې او یو لړ مسایل افشا کول (د نړیوال بشرپالنې قانون او د بشري حقونو د قانون څخه د سرغړونې په ګډون)، هغه مسایل دي چې دوی یې د ستروګواښونو، ارعاب، ځورونې، ځار او په خپل سر توقیف سره مخ کړي دي. په تېرو میاشتو کې، په افغانستان کې یو لړ عمدې، له مخکې پلان شوي او قصدي هدفي پېښې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو په وړاندې ثبت شوې، چې په روښانه ډول هدف یې دا و چې د ځانګړې کسانو په وژلو سره د دوی غږ خاموشه کړي او په ورته وخت کې په پراخه پیمانه ټولنې ته ډارونکی پیغام واستوي.

د یوناما دغه ځانګړی راپور د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو د وژنو اړوند معلومات او رجحانات (رَوَندُونه) تجزیه او تحلیلوي چې د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ د ۱ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ تر ۳۱ نېټې په موده کې ترسره شوي دي. د دغه راپور موندنې څرګندوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو په منځ کې د تلفاتو اصلي سرچېنه د داعش ډلې د خراسان څانګې له خوا تر سره شوي بریدونه وو چې په هغه کې تعبیه شوي چاودیدونکې توکي په دې موخه کارول کیدل چې د تلفاتو کچه زیاته کړي، که څه هم دا ډول بریدونه هرومرو د بشري حقونو د مدافعینو او یا خبریالانو د په نښه کولو لپاره نه وو. هغه مهال تر ټولو ستر ګواښ د په نښه شوو کسانو سره د کار کولو او یا د هغوی په اړوند د راپور جوړولو پر مهال په ناڅاپي ډول سره زیان لیدل وي. په ۲۰۱۹ کال کې د تلفاتو کچه راټېټه شوه، که څه هم هدفي وژنې په پراخه کچه د یو عام تاکتیک په ډول پاتې وې.

په ۲۰۲۰ کال کې دغه لړۍ دوام موند او د کال په اخرو میاشتو کې، د افغان سولې د خبرو د پیل څخه وروسته، خپل نهایي کچې ته ورسیدل. د بشري حقونو مدافعین او خبریالان په ۲۰۱۸ کال کې د ملکي کسانو په وړاندې د بریدونو له امله په سترو تلفاتو لرونکو بریدونو کې په غیرمستقیم ډول اغیزمن کیدل، خو د مشاهدې وړ بدلون دا دی چې اوس پکې انفرادي کسان په عمدي، له مخکې




پلان شوي او قصدي ډول په نښه کیږي (په ځانګړي ډول د ۲۰۲۰ کال په اخري درېو میاشتو کې)، چې دا یوه ستره اندېښنه ده. همدغه راز، د مخکنۍ کلونو په توپیر، په ۲۰۲۰ کال کې د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو[3] په وړاندې چې په قصدي ډول په نښه شوي وو، هیڅ یوې ډلې هم د دغو بریدونو مسولیت په غاړه وانخیست او یا یې تایید نکړ. د ۲۰۲۰ کال د سولې د خبرو اترو په رڼا کې د مثبتو هیلو پر ځای د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو لپاره د زیات ډار سره پای ته ورسید چې د مدني ټولنو او رسنیو انعطاف یې نور هم د ننګونو سره مخ کړ.

یو زیات شمېر د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د افغانستان څخه ووتل، نور هم په دغه لټه کې دي. د ۲۰۲۱ کال د جنوري په میاشت کې، د

یوناما په افغانستان کې د سولې خبرو د پیل څخه وروسته د بشري حقونو په مدافعینو او خبریالانو باندې د غیرقصدي بریدونو څخه، چې په ۲۰۱۸ کال کې د ډله ییزو بریدونو په نتیجه کې اغیزمن شوي، ترقصدي او هدفي وژنو د اندېښنې وړ بدلون ثبت کړی.

افغانستان د بشري حقونو د مدافعینو کمېټې د ګواښ سره مخامخ د بشري حقونو د مدافعینو څخه د ملاتړ لپاره ۳۱ نوي غوښتن لیکونه تر لاسه کړي چې له هغو څخه لس تنه یې ښځې دي. دغه شمېره د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر څخه بیا د دسمبر تر میاشتې پورې چې په هغه کې یوازې اووه غوښتن لیکونه تر لاسه شوي وو، یو چټک زیاتوالي په ګوته کوي. د بشري حقونو د ښځینه مدافعینو او ښځینه خبریالانو وضعیت د ځانګړې اندېښنې وړ په توګه پاتې دی.




## ۲۰۱۸

د ۲۰۱۸ کال په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو لپاره له ګواښه ډک یو کال و، چې په هغه کې ۱۳ تنه د بشري حقونو مدافعین، ۱۷ خبریالان او

[3] یوناما یادونه کوي چې په دې ورستیو کې د ځینو پیښو مسولیت د طالبانو په ګډون هیڅ یوې ډلې په غاړه ندی اخیستی. د افغانستان حکومت راپور ورکړی چې د یو لړ بریدونو په اړوند نیول شوي کسان د طالبانو په ګډون د دولت ضد عناصرو سره اړیکې لري. د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۱، په کابل کې ۱۵ ډیپلوماټیکو دفترونو د وژنو، اختطافونو او د بنسټیزو تاسیساتو د ویجاړولو دوام په کلکه وغندئ او ټینګار یې وکړئ چې د دې تاوتریخوالي مسولیت اکثریت طالبان په غاړه لري. (بیانیه دلته لوستلای شئ: https://af.usembassy.gov/statement-on-continuation-of-/assassinations-kidnappings-and-destruction-of-vital-infrastructure دا لینک په وروستی ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري په ۱۲مه کتل شوی). د فبروري په ۱، طالبانو په دې پیښو کې خپل لاس لرل رد کړل. (بیانیه دلته کتلای شئ: https://alemarahenglish.net/?p=42271 دا لینک په وروستی ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري په ۱۱مه کتل شوی).

### د مدني ټولنو مشرانو او خبرياﻻنو قصدي وژنو په ټول افغانستان کې د ډار او تاوتريخوالي يو بېساره فضا رامنځته کړېده.


د رسنيو کارکوونکې ووژل شول (په ځانګړي ډول د اپريل په ۳۰ نېټه، ۹ تنه خبرياﻻن په يوه برید کې ووژل شول). د بشري حقونو ۱۳ تنه مدافعين چې په ۲۰۱۸ کال کې وژل شوي دي، ۱۱ تنه يې د داعش ډلې د خراسان څانګې د غړو په بريدونو کې وژل شوي چې په هغو کې د دوی د دفترونو او يا سازمانونو په وړاندې او يا په عامه مزدحم ځايونو کې تعبيه شوي چاوديدونکي توکي (ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي، چې د لېرې واټن څخه کنټرول کيده او يا د ځانمرګي برید کوونکو په بدن پورې تړلي وو)، کارول شوي دي. دوه تنه د بشري حقونو مدافعين په عمدي ډول د طالبانو د غړو له خوا په ډزو وژل شوي دي. د ننګرهار ولايت په ځانګړي ډول له دې امله اغيزمن شوی دی. د خبرياﻻنو او د رسنيو کارکوونکو ۱۷ تنه کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې وژل شوي دي، ۱۲ تنه يې (د يوې ښځې په ګډون) په کابل کې په هغه بريدونو کې وژل شوي دي چې داعش ډلې د خراسان څانګې –له خوا ادعا شوي او يا دوی ته نسبت ورکړ شوی دی او په هغه کې تعبيه شوي چاوديدونکي توکي (تعبيه شوي چاوديدونکي توکي، چې د لېرې واټن څخه کنټرول کيده او يا د ځانمرګي برید کوونکي په بدن پورې تړلي وو)، کارول شوي دي. درې تنه په بيلابيل ولايتونو کې د هغه هدفي وژنو قربانيان شول چې هيڅ يوې ډلې يې مسووليت پرغاړه وانخيستی. يو تن د غزني په ولايت کې د طالبانو د برید پر مهال وژل شوی، او يو بل د کندهار ولايت د امنيه قومندان د هدفي وژنې د برید په ترځ کې وژل شوی.

**۲۰۱۹** په ۲۰۱۹ کال کې د بشري حقونو څلور تنه مدافعين په ډزو وژل شوي دي. په يوه قضيه کې، د طالبانو غړيو د غور په ولايت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د ولايتي دفتر سرپرست، د اعدام په ډول ووژل. په يوه بله قضيه کې د بشري حقونو يو مدافع د غزني په ښار کې د وسله والو کسانو له خوا په ډزو ووژل شو. په وروستی قضيه کې ناپېژانده وسله والو کسانو تيتسو نکامورا جاپاني ډاکټر او انسان پال او د هغه د سازمان موټروان په ډزو ووژل. د ياد کال په موده کې، ۶ تنه خبرياﻻن او د رسنيو کارکوونکې په هدفي بريدونو کې وژل شوي دي. د فراه په ولايت کې د طالبانو غړيو يو ژورنالست اختطاف او وروسته يې ووژه. د داعش د خراسان څانګې يو غړي د خوست په ښار کې يو تن ژورنالست په ډزو ووژه. همداراز، په تالقان، کابل او کندهار ښارونو کې ۴ تنه خبرياﻻن په هدفي بريدونو کې وژل شوي چې هيڅ يوې ډلې يې مسووليت پر غاړه ندی اخيستی.

**۲۰۲۰** ۲۰۲۰ کال د بشري حقونو د مدافعينو په هدفي وژنو کې د چټک زياتوالي شاهد

**د پېښو د ډول پر بنسټ د بشري حقونو د مدافعينو، ژورنالستانو او د رسنيو د کارکوونکو وژنه**

۲۰۱۸، جنوري ۱ تر ۲۰۲۱ جنوري ۳۱



و. د افغان د سولې د خبرو د پیل څخه مخکې او د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ نېټې څخه بیا د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې د بشري حقونو ۱۰ تنه مدافعین د افغانستان په بیلابیل ولایتونو کې وژل شوي دي. د کابو ټولو هدفي وژنو په اړه هېڅ یوې ډلې مسولیت په غاړه ندی اخیستی. د بشري حقونو مدافعینو د وژل شویو لسو تنو له جملې څخه درې تنه داسې وژل شوي چې د دوی په موټرانو باندي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي نښول شوي وو، (د یوې ښځې په ګډون: فاطمه خلیل، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون موټروان جاوید فولاد سره یو ځای ووژل شول). پینځه تنه نور د بشري حقونو مدافعین د وسله والو کسانو له خوا په ډزو وژل شوي دي. دوه تنه اختطاف او وروسته د دوی مړي وموندل شول. د لسو تنو له جملې څخه درې تنه د وژل کیدو مخکې د طالبانو د غړو له خوا ګواښول شوی وو. د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ نېټې څخه

## د افغانستان د سولې د مذاکراتو پیل

د افغانستان د سولې د خبرو پیل ونتوانید د هغه تاوتریخوالي کچه راکمه کړي چې د اوږدې مودې راهیسې تمه کیده، او د زیات شمېر افغانانو نیک بینانه هیلې يې په مایوسۍ بدلې کړې. د دې بر سېره، د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۲ نېټې د پیل سره د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو لپاره نا امني په بېساره ډول سره زیاته شوه. له همدې امله، د هدفي وژنو هغه څپه چې په دوحه کې د افغانستان د سولې د خبرو د پرانېستلو وروسته رامنځته سوه، د پام وړ ده. لومړی، دا د هدفي وژنو په شمېر کې د چټک زیاتوالي ښکارندوی دی، چې د بشري حقونو مدافعین او خبریالان يې دواړه په تیرو دریو کلونو کې په هره معادله دوره کې اغیزمن کړي. دویم، په زماني لحاظ په یوه محدوده موده کې د ټول افغانستان په زیات شمېر سیمو کې د آشنا او په نښه ویونکو د مدني ټولنو د مشرانو (د کابل ښار د زرغوني سیمې په ګډون) قصدي په نښه کول، او همدارنګه د هیڅ یوې ډلې له خوا د مسولیت د منلو د نشتون له امله، د هیواد د ملکي وګړو په منځ کې په یو بېسارې ډول سره د ډار یو چاپېریال رامنځته کړی دی.

## پر مدني ټولنې باندې ډاروونکې اغیزه

د وژنو وروستۍ څپه د هیواد په ملکي وګړو کې ډار خپور کړی، هغه هم په داسې یو وخت کې چې یوې عام شموله

د بشري حقونو مدافعینو، رسنۍ او مدني ټولنو لپاره حیاتي مدني فضا باندې د ډار او تاوتریخوالي په مټ فشار اچونه نه یوازې غیرقانوني او ناعادلانه ده بلکې د تیرو کلونو پرمختګونه هم په خطر کې اچوي.

د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې څلور تنه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي وژل شوي دي. د داعش ډلې د خراسان ځانګې د هغه برید مسولیت په غاړه واخیست چې د خورشید تلویزیون یو مني-بس موټر په وړاندې د سړک په غاړه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په کارولو سره تر برید لاندې راغی. د یوه برید مسوولیت هیچ ډلې پر غاړه وانخیسته. یو ژورنالست هغه مهال ووژل شو چې د غور په ولایت کې د مظاهره چیانو سره د جګړې پر مهال د یو پولیس له خوا په تصادفي توګه په مرمۍ ولګیده او ووژل شو.

د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۲ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۳۱ نېټې تر منځ موده کې دغه راپور د بشري حقونو د مدافعینو پینځه تنه چې په عمدي ډول په نښه او وژل شوي دي، ثبت کړي دي. په ټولو پینځو وژنو قضیو کې (د یوې ښځې په ګډون) د سپکو وسلو څخه کار اخیستل شوی دی. د هیڅ کومې قضیې په اړوند چا مسولیت ندی منلی. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۲ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۳۱ نېټې تر منځ موده کې یوناما د شپږ تنو خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو وژل ثبت کړي دي. د دوی څلور تنه، (د یوې ښځې په ګډون) په ډزو وژل شوي او دوه تنه نور په داسې بریدونو کې وژل شوي دي چې د دوی په موټرانو پورې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي نښلول شوي وو. د دې پېښو د جملې څخه د یوې پېښې په اړوند مسولیت منل شوی دی: د راپور په حواله د داعش ډلې د خراسان ځانګې په جلال آباد کې د ژورنالستې ملالۍ میوند او د هغه د موټروان د وژلو مسولیت په غاړه واخیست. د نورو قضیو په اړوند هیڅ ډول مسوولیت ندی منل شوی.

سیاسي روغې جوړې ته د رسیدو او د کلونو شخړو ته د پای ټکي د ایښودلو باندې تمرکز شوی دی. مدني ټولنه د بشري

حقونو د تحفظ او ترویج لپاره مهمه ونډه تر سره کوي او د هر ډول سولې د ترون په دوران او د هغه وروسته موده کې دغې چارې ته به دوام ورکړي. د بشري حقونو د مدافعینو، رسنیو او مدنې ټولنو لپاره، د ګواښ او تاوتریخوالې له لارې، د مهم مدنې چاپېریال ځپل نه یوازې غیرقانوني او د توجیه وړ نه دی بلکې ټول هغه بدلونونو ته ګواښ دی کوم چې د تېرو کلونو په دوران کې رامنځته شوي دي.

په افغانستان کې دولتي او غیر دولتي فعالین په بیلابیلو طریقو سره د مدنې چاپېریال په منقبض کیدلو کې مسولیت لري. یوناما واضح کوي چې ټول فعالین د وژنو او ارعاب په مخنیوي، د حساب ورکونې په ترویج او معافیت څخه د مخنیوي لپاره مهمه ونډه لري چې خپله ونډه باید تر سره کړي. د هدفي وژنو د قضیو تحقیق باید خپلواک، بېطرفه، بېړنی، دقیق، اغیزمن، معتبر او شفاف وي. د تر سره کوونکې مظنونینو عدلې تعقیب باید په کلکه توګه قانونې پروسه او د عادلانه محاکمې معیارونه رعایت کړي.

د مدنې ټولنو او رسنیو د ونډې په وړاندې د کرکې څخه ډک بیان کارول، د اطلاع ورکوونکو په وړاندې د ګواښ او یا کوم اقدام څخه کار اخیستل، او د "په نښه شوو کسانو لست" لاس په لاس کیدل، یوازې د مدنې چاپېریال د لا زیات منقبض کولو وضعیت د دوام سره مرسته کوي. افغان وګړي، ممکن اوس تر بل هر وخت زیات، په مخکې پرته ننګوونکې موده کې، یو آزاد مدنې چاپېریال ته اړتیا لري او د هغه مستحق هم دي.

# سپارښتنې

یوناما در بشری حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو اود رسنیو کارکوونکو د خوندیتوب دهڅو د ملاتړ لپاره او همدارنګه د دوي په وړاندي د بشري حقونو د سرغړونو څخه مخنیوی، او د نړیوال بشری حقونو د قانون لاندي دمسولیتونو د ترسره کولو په خاطر لاندي سپارښتنې وړاندي کوي:

## د افغانستان حکومت ته

- د وروستي ګډ کمیسیون د رامنځته کولو په دوام، د بشري حقونو د مدافعینو د خوندیتوب په خاطر د افغانستان د ولسمشر د دویم مرستیال په مشري د ملي خوندیتوب یو اغیزمن او همغږی مکانیزم فعالول.
- د ځانګړي خوندیتوب او امنیتي تدبیرونو په ګډون، د هغو بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو لپاره چې د ګواښونو او د ارعاب نورو ډولونو سره مخ شوې دي، د یوه کافي وقایوي کاري چوکاټ رامنځته کول.
- ډاډ تر لاسه کول چې د بشري حقونو مدافعین، ژورنالیستان او د رسنیو کارکوونکې خپل د ژوند د مشروع حقونو، د راټولیدو ازادي، د بیان ازادي او معالوماتو ته د لاسرسي ازادي او همدارنګه د نورو بنسټیزو ازادیګانو څخه، د غچ او یا د برید د ډار څخه پرته، برخمن وي.
- د وژنو د قضیو د خپلواک، بېطرفه، بېړني، کره، اغیزمنه، معتبره او روڼ تحقیقاتو په ګډون، د معافیت په وړاندي مبارزه کول.
- د هدفي وژنو د مظنون مرتکبینو د عدلي تعقیب په ګډون چې په هغه کې نړیواله قانونې پروسه او د عادلانه محاکمې معیارونه په جدي ډول سره رعایت شوي وي، د یوې روښانه حساب ورکونې ترویجول.
- د تجمع یا راټولیدو د ازادي او د بیان ازادي په وړاندې د محدود کوونکو قوانینو د تدوین څخه ډډه کول او همدارنګه په هغه مدنې چاپېریال کې چېرته چې د عامه ګفتمانونو څخه د غیر ضروري ننګونو او یا په نښه کیدو له امله مخنبوی کیږي په ګډون، د یوه مدنې چاپېریال خوندي کول او ترویجول.

## غیر دولتي عناصرو ته

- د بشر پالنې نړیوال قانون او د بشري حقونو نړیوال قانون سره سم، د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو په وړاندې د ټولو وژنو بندول.

## طالبانو ته

- د مشرتابه په کچه د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو د وژنو د پېښو په کلکه غندل.
- د هغو قضیو تحقیق چیرته چې د طالبانو پرغړو باندې په قضیه کې د لاس درلودلو ادعا شوې وي، او د طالبانو د غړو چې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو، او د رسنیوکارکوونکو په وړاندې د هدفي وژنې امر ورکړی او یا امر یې پلې کړی دی، حسابورکولو ته اړایستل.
- د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو د کارکوونکو په وړاندې د هغو د هدفي وژنو د منع کولو په موخه د پالیسیګانو تدوین، خپرول او انفاذ.
- د موجوده پالیسیګانو منسوخول (د نویو پالیسیګانو د تدوین څخه امتناع) کوم چې د تجمع یا راټولیدو ازادي د مدنې ټولنو او د بشري مرستو د فعالینو کار او د بیان د ازادي په ګډون، مدنې چاپېریال محدودوي.

## نړیوالې ټولنې ته

- د یو متحد، خپلواک، سوله ییز او دیموکراتیک افغانستان لپاره، د ۲۰۲۰ کال د نومبر د میاشتې

په ۲۴ نېټه د افغانستان په اړوند د ژنو په کنفرانس کې د تدوین شوي اعلامې سره سم، د بشري حقونو د مدافعینو او د خپلواکو رسنیو د مهمې ونډې د واضح کولو کار ته دوام ورکول.

- د ګواښ سره مخ شوي د بشري حقونو مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو سره دوامداره تعامل او د هغو پروګرامونو سره مرسته زیاتول کوم چې دوي ته د امنیت، سفر، مالي کمک، د ظرفیت رامنځته کول او نورې مرستې چمتو کوي.

# پیژندنه

د زیات شمیر کلونو لپاره عامې نا امنۍ او د امنیت نشتون د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کارمندانو پر ورتیا منفي اغیز درلود څو په افغانستان کې خپل کار پر مخ یوسي. د بشري حقونو د ودې او افغان وګړو ته پر وخت د معلوماتو د برابرولو لپاره کار کولو د بشري حقونو مدافعین او خبریالان له ګواښونو، تهدیدونو، ځورونې، ځارنې، خپل سري توقیف او عمدي په نښه کولو او وژنو سره مخ کړي.

د راپور موندنې په ډاګه کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د دوارو بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو ترمنځ د تلفاتو مخکښ لامل د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د غړو له خوا بریدونه وو په کومو کې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه شامله وه، چې موخه یې د تلفاتو زیاتول و. خو له دې سره سره، په ۲۰۱۸ کال کې دغه ډول بریدونو په عمده ډول د بشري حقونو مدافعین یا خبریالان نیغ په نیغه نه دي په نښه کړي. په ورته وخت کې داسې بریښي چې تر ټولو ستر ګواښ هغه اتفاقي زیان دی چې د راپور ورکولو پر مهال یا له په نښه شویو هغو سره د کار کولو پر مهال رامنځ ته شوی. په ۲۰۱۹ کال کې د تلفاتو شمیر راټیټ شو؛ که څه هم عمدي وژنې په زیاتیدونکي ډول یو معمول تاکتیک وګرځید. د بشري حقونو د ښځینه مدافعینو او خبریالانو وضعیت په ځانګړي ډول د اندېښنې وړ دی: په ۲۰۱۹ کال د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکې پر دې ټینګار وکړ چې "د افغانستان په زیات شمیر ولایتونو کې د طالبانو د بریدونو له امله چې د هغوی د ګډون او تعامل پر کچه اغیز کوي، ښځینه مدافعینې ببځایه شوي" او دا چې "ښځینه خبریالانې او قانون پوهانې ډیرې وختونه د مسلو افشا کولو او د هغو خلکو د ننګولو چې په واک کې دي، له لوړو ګواښونو سره مخ دي."[4]

په ۲۰۲۰ کال کې، افغانان د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د یوه تړون د نهایي کیدو او د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د طالبانو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت په استازیتوب د مذاکره کوونکو ټیمونو ترمنځ د سولې مذاکراتو د پیل شاهدان وو. په داسې حال کې چې تاوتریخجنې جګړې دوام درلود، افغانان همدارنګه د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو د هدفي وژنو د یوې بې سارې څپې شاهدان وو. د ۲۰۲۰ کال د اګست پر ۱۴ نېټه، د ملګرو ملتونو څلورو ځانګړو راپور ورکوونکو پر افغان دولت غږ وکړ چې پر وخت پریکنده اقدام ترسره کړي څو د بشري حقونو د مدافعینو د وژنو مخه ونیسي او له معافیت سره مبارزه وکړي، څرنګه چې دغه ډول بریدونه په ۲۰۲۰ کال کې زیات شوي.[5] د افغانستان په اړه د ۲۰۲۰ کال د کنفرانس پر مهال چې د ۲۰۲۰ کال د نومبر پر ۲۳ نېټه په جنیوا کې ترسره شو د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرې د خپلې کلیدي وینا پرمهال د بشري حقونو د مدافعینو د خوندیتوب غوښتنه وکړه، او ټینګار یې وکړ چې د مدني ټولنې فعالین، د بشري حقونو مدافعین، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون کارکوونکي، خبریالان او د رسنیو کارکونکي په زیاتیدونکي ډول په نښه شوي او له ګواښونو، تهدیدونو او ځورونو سره مخ دي.[6]

د یوناما له خوا دغه ځانګړی راپور د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د وژنې پر موضوع تمرکز کوي. د عمدي بریدونو له امله چې قاضیان، څارنوالان، دیني عالمان، روغتیایي کارمندان، سیاسي شنونکي، ملکي مامورین او نور ولسي وګړي یې په نښه کړي، په ملکي تلفاتو کې پراخ ناځاپي زیاتوالی د ځانګړې اندېښنې وړ

---

[4] د بشري حقونو د مدافعینو د وضعیت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، *د بشري حقونو د ښځینه مدافعینو وضعیت*، A/HRC/40/60، ۱۰ جنوري ۲۰۱۹، ۱۳ پانه.

[5] اعلامیه پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده:
https://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=26166&LangID=E (په وروستي ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۴ نېټه لیدل شوې).

[6] بشپړه اعلامیه پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه لیدلای شئ https://www.facebook.com/watch/?v=384538019532277 (په وروستي ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۴ نېټه لیدل شوې).

دی.[7] ځینې وختونه قربانیان له دې امله تهدیدیږي څو خپل مسلکي فعالیتونه پای ته ورسوي؛ په نورو قضیو کې هیڅ اخطار نه دی ورکړل شوی. د ملکي وګړو عمدي وژنه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ده او شایي جنګي جرمونه وګڼل شي.

د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې مذاکراتو تر پیل وروسته د عمدي وژنو زیاتوالی د سختې اندېښنې وړ دی، څرنګه چې دغه کار په هیواد کې د ملکي خلکو ترمنځ د ویرې چاپیریال رامنځ ته کړی. د ۲۰۲۱ کال په جنوري میاشت کې، د افغانستان د بشري حقونو د مدافعینو کمیټې له خطر سره د مخ د بشري حقونو له مدافعینو څخه د ملاتړ لپاره ۳۱ نوي غوښتنلیکونه ترلاسه کړي، چې لس هغه یې د ښځینه مدافعینو وو. دا د ۲۰۲۰ کال له سپتمبر څخه تر ډسمبر پورې د اوو ترلاسه شویو غوښتنلیکونو په پرتله یو تیز زیاتوالی وړاندې کوي. کله چې د مدني ټولنې او د رسنیو د سکتور د لوړې کچې عام اشخاص افغانستان پریږدي، دا په سخت ډول عامه باور او د سولې هڅو ته هیله مندي اغیزمن کوي.

مدني ټولنه د بشري حقونو ته په ودې ورکولو او ساتلو کې خورا مهم رول لري او دغه چارې به د سولې د تړون پر مهال او تر هغه وروسته جاري ساتي. د قصدي وژنو، تهدیدونو او تاوتریخوالي له لارې د بشري حقونو د مدافعینو ، د رسنیو او مدني ټولنې لپاره د حیاتي مدني چاپیریال راتنګول دواړه غیرقانوني او د توجیه وړ نه دي. کله چې سیاسي څېرې د مدني ټولنې او رسنیو د رول په ضد له تورونو او نیوکو ډکې ویناوې کوي او یا د افشا کوونکو په ضد اقدام کوي یا یې په ضد د اقدام کولو ګواښ کوي، دوي د داسې شرایطو له دوام سره مرسته کوي په کومو کې چې مدني چاپیریال لا زیات تنګیږي.

له بلې خوا د بل هر وخت په پرتله افغان وګړي په راتلونکې ننګونکې موده کې یوې غښتلې مدني فضا ته اړتیا لري او د هغې مستحق ګڼل کیږي. یوناما په ډاګه کوي چې ټول فعالین د ژوندانه حق په ساتنه، د عمدي وژنو او تهدیدونو په مخنیوي، احتساب ته په وده ورکولو او د معافیت په مخنیوي کې خورا مهم رول لوبولی شي. د هدفي وژنو څېړنې باید خپلواکې، بې پرې، چټکې، بشپړې، موثرې، باوري او رڼې وي. د شکمنو عاملینو عدلي تعقیب باید په جدي ډول قانوني پروسه او د عادلانه محاکمې معیارونه تعقیب کړي.

[7] ادم نوسیتر، *"هیڅ خوندي ځای نشته": په کابل کې هر ځای ویره خپره ده*، نیویارک ټایمز، ۱۷ جنوري ۲۰۲۱؛ فهیم عابد، تامس جیبونس-نیف، *هدفي وژنو افغانان ډاروي. هیڅوک یې مسوولیت نه مني*، نیویارک ټایمز، ۲ جنوري ۲۰۲۱.

# ماموریت او میتودولوژي

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یوناما ته دنده سپاري چې له افغان دولت، د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون، او مدني ټولنې سره د بشري حقونو په ساتنه او ودې ورکولو کې د همکارۍ او ظرفیت غښتلي کول جاري وساتي. یوناما ته دغه راز د نورو دندو ترڅنګ دا دنده سپارل شوې چې له اړوندو نړیوالو او ځايي نا دولتي سازمانونو سره همکاري وکړي چې د ولسي وګړو وضعیت وڅاري او هڅې همغږې کړي څو د هغوي ساتنه ډاډمنه کړي.[8] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دغه راز په ډاګه کوي چې په تیرو ۱۹ کلونو کې اقتصادي، ټولنیزې، سیاسي او پراختیايي لاسته راوړنې او دغه راز بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو، ماشومانو او لږکیو ته درناوي باید وساتل شي او ادامه پیدا کړي.[9]

دغه راپور د هغو ارقامو پر بنسټ ولاړ دی چې د یوناما له خوا د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۳۱ نېټې پورې مودې پر مهال په ټول هیواد کې د ترسره شوې څارنې له لارې راغونډ شوي. دغه د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کار کوونکو د تایید شویو وژنو پېښې رانغاړي.[10]

په دغه راپور کې شاملې شوې وژنې هغه پیښې دي یوناما یې په اړه پوهیدلې او د مجموع کتل شویو معلوماتو پر بنسټ دي (د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د کار له لارې په ګډون خو په هغه پورې محدود نه)، او چیرې چې یوناما په خپلواک ډول دا معلومه کړې چې د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارمندان وژل شوي. په دغه راپور کې دواړه هغه پېښې چیرې چې د ملکي وګړو د ساتنې د میتودولوژي سره سم تاییدې شوي (هغه چې له جګړې سره تړاو ولري او لږ تر لږه د دریو مختلفو خپلواکو سرچینو له خوا تایید شوې وي)[11] او نورې هغه پېښې شاملې دي چیرې چې دا نه شي معلومیدای چې ایا یوه پېښه دې د جګړې کوم لوري ته منسوب کړای شي. په یو محدود شمیر پېښو کې د دغه راپور د خپریدو تر وخت پورې، په داسې حال کې چې وژنه تایید شوې وي، یوناما په دې و نه توانیده چې لږ تر لږه له دریو مختلفو خپلواکو سرچینو څخه کافي معلومات راغونډ کړي. په دغه ډول قضیو کې، یوناما همدارنګه د خپلو موندنو د تاییدولو لپاره د پرانیستو باوري سرچینو معلومات کارولي او پېښه یې د جګړې یوه مشخص لوري یا بل فعال ته نه ده منسوب کړې، تر هغې چې کوم لوري د پېښې مسوولیت پر غاړه نه وي اخیستی.

لکه څرنګه چې پورته توضیح شوه، په دغه راپور کې د یادو وژنو منسوبونه د ملکي وګړو د ساتنې د میتودولوژي پر بنسټ ده. یوناما همدارنګه د ۲۰۱۹ کال راهیسې د بشري

[8] د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۵ نېټې ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه یوناما ته دنده سپاري چې "د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر په ملاتړ له افغان دولت، د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون، او مدني ټولنې سره د بشري حقونو په ساتنه او ودې ورکولو کې د همکارۍ او ظرفیت غښتلي کول جاري وساتي، له اړوندو نړیوالو او ځايي نا دولتي سازمانونو سره همکاري وکړي چې د ولسي وګړو وضعیت وڅاري او هڅې همغږې کړي څو د هغوي ساتنه ډاډمنه کړي، له توقیف ځایونو او له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره چلند وڅاري، احتساب ته وده ورکړي، او له افغان دولت، شریکبانو سره په نږدې سلا مشورو کې د قضايي او غیر قضايي پروسو د رامنځ ته کولو او تطبیقولو کې سلا مشورې ورکړي څو په پراخه کچه د بشري حقونو سرغړونو، تیریو میراث او دغه راز نړیوالو جرمونو ته رسیدګي وکړي او د هغوي د بیا تکرار مخه ونیسي او د افغانستان د اساسي قانون او هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان یې غړیتوب لري د بنسټیزو ازادي ګانو او د بشري حقونو د احکامو له بشپړ تطبیق سره مرسته وکړي چې افغانستان یې غړیتوب لري ، په تیره بیا له بشري حقونو څخه د ښځو او نجونو د بشپړ برخمن کیدو په اړه چې کوم احکام دي، لکه د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون."

[9] ۲۵۴۳ پریکړه لیک، مخکیني پاراګراف ۵.

[10] دغه راپور د سترو ملکی تلفاتو درلودونکي بریدونه کوم چې به د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په کلني راپور کې شامل شي، نه رانغاړي.

[11] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما منظم عامه راپورونه ملکیانو د زیان په هغو پېښو پورې محدود دي چې له وسله والې جګړې سره تړاو ولري (د مثال په ډول چیرې چې مسوولیت د جګړې یوه لوري ته منسوب شوی وي). د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما راپورونو ته مراجعه وکړئ، دلته د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د وژنو په مسوولیت اخیستنه کې کموالی ملاحظه کړی، کوم څه چې د جګړې ښکیلو لورو ته یې د پېښو د منسوبونې په کموالي کې مرسته کړې. چیرې چې یوناما د معلوماتو د کمیت او کیفیت په اړه قانع نه وي، هغه د تایید شویو هغو په څیر په پام کې نه نیسي. نا تایید شوې پېښې په دغه راپور کې نه دي شامل کړای شوي.


په دغې مودې کې، یوناما په ټول افغانستان کې په منظم ډول ورکشاپونه او غونډې ترسره کړې څو د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو د ننګونو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د خپلو معلوماتو په راغونډولو کې یوناما د محرمیت، نه مداخلې، نه لاسوهنې او تر ټولو مهم د "زیان نه رسولو" اصول په پام کې نیولي. راپور شوي ارقام چیرې چې شونې وه د جندر، موقعیت، مسلکي تړاو، عاملینو او د پېښې د نوعیت پر بنسټ تفکیک شوي. د خپلو موندنو په اساس، یوناما د اړوندو فعالینو لپاره یو لړ سپارښتنې شاملوي.

راپور د تطبیق وړ بشري حقونو نړیوالو معیارونو، د حقوقي او پالیسی ملي چوکاټ او لنډو اصطلاحګانو په کتنې سره بشپړ شوی (لومړی، دویمه، دریمه ضمیمې).

# یو خورا خطرناک مسلک

## په ۲۰۱۸-۲۰۱۹ کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو وژنه

**د ولایت په کچه د وژنو جغرافیایي ویش**
۲۰۱۸ جنوری ۱ تر ۲۰۱۹ دسامبر ۳۱




### ۲۰۱۸: عمومي کتنه

*۲۰۱۸ کال په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو د کارمندانو لپاره یو خطرناک کال و، چې د بشري حقونو ۱۳ مدافعین او ۱۷ ژورنالیستان او د رسنیو کارمندان په کې وژل شوي.*

*په ۲۰۱۸ کال کې د ۱۳ بشري حقونو د مدافعینو د وژل شویو له جملې ۱۱ هغه یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د غړو له خوا د هغوی د ادارو پر سازمانونو پر ضد یا له ګڼې ګوڼي په ډکو عامه سیمو کې په ترسره شویو بریدونو کې وژل شوي چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه په کې شامله وه. د بشري حقونو دوه مدافعین د طالبانو له خوا په عمدي ډزو ویشتل شوي او مړه شوي. د ننګرهار ولایت په ځانګړي ډول اغېزمن شوي و.*

*په ۲۰۱۸ کال د ۱۷ وژل شویو خبریالانو او رسنیو له کارمندانو څخه ۱۲ هغه یې (د یوې ښځې په ګډون) په کابل کې په هغو بریدونو کې وژل شوي چې مسوولیت یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې اخیستی یا نوموړې ډلې ته منسوب شوي او چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو (ریموټي یا ځانمرګي) کارونه په کې شامله وه. د یادونې وړ ده چې نهه خبریالان د اپریل پر ۳۰ نېټه په یوه واحد برید کې ووژل شول. درې هغه یې په مختلفو ولایتونو کې د عمدي وژنو قرباني شوي چې مسوولیت یې کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی. یو هغه یې پر غزني ولایت د طالبانو له خوا د برید پر مهال وژل شوی، او یو هغه یې د طالبانو له خوا د کندهار پر امنیه قوماندان د برید په پایله کې وژل شو.*

رسنۍ
**۱۷ تنه وژل شوي**
خبریالان او د رسنۍ کارکوونکي
۲۰۱۸ جنوري ۱ تر ۲۰۱۸ دسامبر ۳۱
**۱۳ تنه وژل شوي**
د بشري حقونو مدافعین

## د بشري حقونو مدافعين

- د جنوري پر ۲۴ نېټه، په جلال اباد ښار کې وسله والو يو ډله يېز بريد ترسره کړ چې د ماشومانو د ملاتړ نا دولتي اداري څلور کارمندان هر يو: سيد عمر، د پوهنې همغږی کوونکی؛ اصف، د جنراتور ميخانيک؛ سميع الله، همغږی کوونکی؛ او فواد عمر، کار زده کړی يې ووژل. بريد له چاوديدونکو توکو د ډک موټر چې يوه ځانمرګي بريدګر چلوه، په اصلي دروازه کې په چاودنې سره پيل شو چې تر چاودنې وروسته د راکيټونو، لاس بمونو، او دغه راز د سپکو وسلو ډزې هم ترسره شوي. د دغه بريد مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې پر غاړه اخيستی.
- د مۍ پر ۱۸ نېټه په جلال اباد ښار کې يوه ريموټ بم هدايت الله زهير د با احساسه ځوانان مدني ټولنې يو غړی وواژه. دغه ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي د بهسودو پل د کريکټ په سټډيوم کې د ننه وچاوديدل چې نندارچيان په کې د شپې د کريکټ لوبې ننداري ته راغونډ شوي وو، کومه چې د قرباني په مرسته تنظيم شوې وه. د دغې پېښې مسووليت کوم لوري پر غاړه نه دی اخيستی. د راپورونو له مخې طالبانو په دغې پېښې لاس لرل رد کړي.
- د جولای پر ۲۸ نېټه په جلال اباد ښار کې، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې غړو يو ډله يېز بريد ترسره کړ چې د فغانستان د مرستې او پراختيا سازمان د يوې نا دولتي اداري دري غړي يې ووژل. شاه محمود، موټر چلوونکی او بسم الله او فضل الله امنيتي ساتونکي د دغې بريد په پايله کې ووژل شول، دغه بريد د قابله ګانو د روزنې مرکز په نښه کړی و په کوم کې چې د چاوديدونکو توکو د واسکټونو، لاسي بمونو او د سپکو وسلو ډزو کارونه شامل وو. د دغه بريد مسووليت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې پر غاړه اخيستی.
- د سپتمبر پر ۲۵ نېټه په کندهار ښار وسله والو کسان محمد ناصر مبارز، يو مدني فعال په ډزو وواژه. نوموړي دغه راز د ۲۰۱۸ کال د ولسي جرګې ټاکنو ته نوماند و. طالبانو د دغه بريد مسووليت پر غاړه اخيستی.
- د اکتوبر پر ۴ نېټه، د ننګرهار ښار، خوګيانو ولسوالی د کړکې بازار په سيمه کې د يوه ريموټي بم چاودنې چې د برک افغانستان دفتر يې په نښه کړی و، د دغې اداري دري کارمندان: سردار ولي (انجنير)، عمران او ډاکټر مجيب الرحمن ووژل. د دغه بريد مسووليت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې پر غاړه اخيستی.
- د اکتوبر پر ۲۶ نېټه، د پکتيکا ولايت، زيروک ولسوالی په تنګ سيمه کې وسله والو کسانو بخت الله د ميډيکل کروپس نړيوالي اداري کارمند په ډزو وواژه. د دغې پېښې مسووليت کوم لوري پر غاړه نه دی اخيستی.

## خبريالان او د رسنيو کارکوونکي

- د اپريل پر ۲۵ نېټه د کندهار په ښار کې، پر موټر سايکل سپرو وسله والو کسان د تلويزيون خبريال عبد المنان ارغند په ډزو وواژه. د دغې پېښې مسووليت کوم لوري پر غاړه نه دی اخيستی. د راپورونو له مخې د ۲۰۱۹ کال د اپريل په مياشت کې دوه کسان د دغه بريد په تړاو محکوم شول.
- د اپريل پر ۳۰ نېټه په کابل ښار کې، د يوه کس له خوا چې د چاوديدونکو توکو واسکټ يې پر ځان و يوه بريد يار محمد توخي، شاه مری فيضي، غازي رسولي، نوروز علي خاموش (رجبي)، سليم تلاش، علي سليمي، عبادالله حنانزي، فرشته محرم دراني او سباوون کاکړ خبريالان ووژل. دغه بريد تر يوه بل بريد وروسته رامنځ ته شو، چې بريدګر يې له چاوديدونکو توکو ډک واسکټ اغوستی و. د دغه بريد مسووليت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې پر غاړه اخيستی.
- د اپريل پر ۳۰ نېټه په خوست ښار کې، وسله والو کسانو د احمد شاه متونوال په نامه يو خبريال داسې مهال په ډزو وواژه کله چې پر بايسکل خپل کور ته پر لار و. د دغه بريد مسووليت کوم لوري پر غاړه نه دی اخيستی. د راپورونو له مخې د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۳ نېټه د دغه بريد په تړوا دري نارينه مجازات شول.

- د جولای پر ۲۲ نېټه د کابل هوايي ډګر ته څېرمه د یوه کس له خوا چې د چاودیدونکو توکو واسکټ یې پر ځان و یوه برید د نورو قربانیانو ترمنځ د رسنیو کارکوونکی محمد اختر ووازه. د دغه برید مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی.
- د اګست پر ۱۰ نېټه په غزني ښار کې، د طالبانو له خوا د تلویزیون پر تپه (یوه سیمه چیرې د ځایي رسنیو زیات شمیر آنتنونه عیار شوی) برید د محمد داود انوري د رسنیو یو تکنیشن د وژنې لامل شو.
- د سپتمبر پر ۵ نېټه په کابل ښار کې، د یوه ریموټي بم چاودنه د یوه راپور ورکوونکي صمیم فرامرز او عکاس رامز احمدي د وژنې لامل شوه. دغه چاودنه په عین موقعیت کې د یوه ځانمرګي برید په تعقیب رامنځ ته شوه. د دغو بریدونو مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی.
- د اکتوبر پر ۱۸ نېټه په کندهار ښار کې محمد سالم انګار، عکاس، د ولایت په مقام کې د ننه په داخلي برید کې د ډزو په تبادله کې ووژل شو. د دغه برید مسوولیت طالبانو پر غاړه اخیستی.
- د ډسمبر پر ۴ نېټه په جلال اباد ښار کې، وسله والو کسانو د انعکاس تلویزیون د رئیس موټر چلوونکی کندهار په ډزو وواژه. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی.

## ۲۰۱۹: عمومي کتنه

*په ۲۰۱۹ کال کې، که څه هم د تلفاتو شمیر راټیټ شوی و، خو عمدي وژنې په زیاتیدونکي ډول یو معمول تاکتیک ګرځیدلی و.*

*د بشري حقونو څلور مدافعین په ډزو ووژل شول. په یوه قضیه کې، طالبانو په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د دفتر سرپرست د اعدام په شکل ووژلی. په یوه بله قضیه کې، د غزني په ښار کې د بشري حقونو یو مدافع د وسله والو کسانو له خوا په ډزو ووژل شو. په وروستی قضیه کې، نامعلومو وسله والو یو جاپاني ډاکټر او بشرپال تیتسو ناکامورا او د هغه د دفتر موټر چلوونکی په جلال اباد ښار کې په ډزو ووژل.*

*شپږ خبریالان او د رسنیو کارمندان په هدفي بریدونو کې ووژل شول. طالبانو په فراه ولایت کې یو ژورنالیست تښتولی او وژلی. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې غړو په خوست ولایت کې یو ژورنالیست په ډزو وواژه. په تالقانو، کابل او کندهار کې څلور خبریالان په هغو هدفي وژنو کې وژل شوي چې کوم لوري یې مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی.*

### ۶ تنه وژل شوي
رسنۍ
### خبریالان او د رسنۍ کارکوونکي

۲۰۱۹ جنوري ۱ تر ۲۰۱۹ دسامبر ۳۱

### ۴ تنه وژل شوي
### د بشري حقونو مدافعین

## د بشري حقونو مدافعین


- د جون پر ۲۲ نېټه په غزني ښار کې، وسله والو کسانو نقیب الله خاکسار د ژوند د مدني ټولنې سازمان رئیس په ډزو وواژه. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی.
- د سپتمبر پر ۳ نېټه عبد الصمد امیري په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ولایت دفتر سرپرست د وردګو ولایت په جلریز ولسوالۍ کې داسې مهال وتښتول شو کله چې په یوه بس کې له کابل څخه غور ولایت ته پر لار و. هغه د سپتمبر پر ۵ نېټه د اعدام په شکل ووژل شو. د معلوماتو د سرچینې له معلوماتو سره سم، امیري په شا کې څلور ځلې په ډزو ویشتل شوی. د دې راپور ورکړل شوی چې طالبانو دغه برید څېړلی، چې پایلې یې له خلکو سره نه دي شریکې شوي.
- د ډسمبر پر ۴ نېټه په جلال اباد ښار کې، وسله والو کسان ډاکټر تیتسو ناکامورا د سوله جاپان طبي خدمتونو د نا دولتي ادارې رئیس (افغان افتخاري تبعه) او د هغه موټر چلوونکی زین الله معصوم په ډزو ووژل. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی.

## خبریالان او د رسنیو کارکوونکي

- د جنوري پر ۵ نېټه د فراه په ښار کې، وسله والو کسانو یو نیمه وخت خبریال جاوید نوري وتښتاوه او وروسته یې وواژه. طالبانو د دغه برید مسوولیت پر غاړه اخیستی، خو دا یې رد کړې چې قرباني دې د خبریال په څېر د هغه د کار له امله په نښه شوی وي.
- د فبروري پر ۵ نېټه د تالقانو په ښار کې، وسله والو کسانو د هم صدا راډیو په محوطه کې خبریالان شفیق اریا او رحیم الله رحماني په ډزو ووژل. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی.
- د مارچ پر ۱۵ نېټه په خوست ښار کې، پر موټر سایکل سپرو وسله والو کسانو خبریال سلطان محمود خیرخوا د خپل موټر چلولو پر مهال په ډزو وواژه. دغه برید مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی.
- د جولای پر ۱ نېټه په کابل ښار کې عبد الروف ایملزی په ډزو وواژه. دغه پېښه د شمشاد خصوصي تلویزیون دفتر ته څېرمه له چاودیدونکو توکو ډک موټر تر چاودنې وروسته رامنځ ته شوه، چېرې چې عبد الرؤوف ایملزی د امنیتي ساتونکي په څېر ګمارل شوی و. طالبانو د موټر بم برید مسوولیت پر غاړه واخیست.
- د سپتمبر پر ۲۴ نېټه په کندهار ښار کې، په موټر کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو چاودنې د نورو تر څنګ د هیواد د رسنیو د خپلواک ګروپ د سیاسي خبرو اترو د څېړونې کوربه عبد الحمید هوتکي وواژه. دغه برید د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د یوه نوماند د کمپاین دفتر په نښه کړی و. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی.

# په زیاتیدونکي توګه د اور په لیکه کې


## په ۲۰۲۰ کې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو کارکونکو وژنه




### ۲۰۲۰ کال: عمومي کتنه

۲۰۲۰کال د بشري حقونو د مدافعینو په هدفي وژنو کې د چټک زیاتوالي شاهد و. د کابو ټولو وژنو په اړه هېڅ یوې ډلې مسوولیت په غاړه ندی اخیستې. د افغانستان د سولې د خبرو د پیل کیدو څخه د مخه، د ۲۰۲۰ کال د جنورې د ۱ نېټې څخه بیا د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې د بشري حقونو ۱۰ تنه مدافعین د افغانستان په بیلابیل ولایتونو کې وژل شوې دي. د بشري حقونو مدافعین د وژل شویو ۱۰ تنو له جملې څخه ۳ تنه داسې وژل شوې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو څخه کار اخېستل شوی چې د دوی په موټرانو کې نښلول شوي، (د یوې ښځې په ګډون: فاطمه خلیل، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون موټروان جاوید فولاد سره یو ځای ووژل شول). ۵ تنه نور د بشري حقونو مدافعین د وسله والو کسانو له خوا په ډزو وژل شوي دي. ۲ تنه برمته او وروسته یې مړي وموندل شول. د ۱۰ تنو له جملې څخه دري تنه له مخکې د طالبان د غړو له خوا ګواښول شوی وو.

د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ نېټې څخه د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې ۴ تنه خبریالان او د رسنیو کارکوونکې وژل شوي دي. د داعش ډلې د خراسان څانګې د هغه برید مسوولیت په غاړه واخیست چې د خورشید د تلویزیون یو مني-بس موټر پر وړاندې د سړک په غاړه د په لاس چوړ چاودیدونکو توکو په کارولو سره تر برید لاندی راغې. د یوه برید مسوولیت هیڅ یوې ډلې پر غاړه وانخیسته. یو خبریال هغه مهال ووژل شو چې د غور په ولایت کې د مظاهره چیانو سره د جګړې پر مهال د یو پولیس له خوا په تصادفي توګه په مرمې ولګیده او ووژل شو.



## د بشري حقونو مدافعین

- د مارچ په ۷مه، وسله والو حمزه غفارزوی د افغانستان د مدني ټولنې د موسسې (اقوام با هم برادر هستند) رئیس د غزنی په ښار کې په ډزو وواژه. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د مارچ په ۲۸مه، وسله والو کسانو د مدني ټولنې فعال قدرت الله ستانکزی د پل علم په ښار کې په ډزو ټپي کړ. هغه د کابل ولایتي روغتون ته له رسیدو وروسته د یادو ټپونو له امله مړ شو. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د اپریل په ۷مه ، د سرچینې معلوماتو په اساس، وسله والو یو ځایی مشر، د سولې فعال او د وردګو قومي شورا رئیس ډاکټر ضیاالدین کمال د کابل په ښار کې وژلی دی. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د می په ۲۱مه، وسله والو د بشري حقونو مدافع محمد ابراهیم عبرت د قلات په ښار کې په ډزو ټپي کړ. عبرت، د زابل لپاره د مدني ټولنې د ګډې کاري ډلې همغږي کونکی و چې د می په ۲۸مه د یادو ټپونو له امله مړ شو. د راپورونو سره سم، د برید څخه دمخه، عبرت د طالبانو لخوا د مرګ ګواښونه ترلاسه کړي وو، او له هغه یې غوښتلي و چې د خپل بشري حقونو فعالیتونه ودروي. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د جون په ۲۷مه، د کابل په ښار کې د ریموټ کنټرول په واسطه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله فاطمه "نتاشه" خلیل چې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون کې د مرستندویه اړیکو کارکوونکې وه، او د هغې ډرایور جاوید فولاد ووژل شول. یاد چاودیدونکي توکي د هغې په دولتي موټر پورې نښلول شوي و، چې دولتي نمبر پلیټ یې در لود. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د جولای په ۱ ، د فراه په ښار کې، ټوپک والو د فراه ولایت د مدني ټولنې د شبکې ویاند حمیدالله رحماني په ډزو وواژه. هغه یو ښوونکی، یو مشر او د ښوونکو د انجمن مشر هم و. د راپورونو له مخې، هغه دمخه د ملي امنیت ریاست څخه غوښتنه کړې وه چې د هغه لپاره امنیت چمتو کړي. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د اګست په ۱ ، د غزنی ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې ټوپک والو د بشري حقونو مدافع او د سیمه ایزې شورا مشر عصمت الله سلام (د مدني ټولنې سازمان ژوند) وتښتول. د سرچینې معلوماتو پر اساس، په سبا یې د هغه مړی موندل شو چې د شکنجې نښې ورسره وې. سرچینې دا هم په ګوته کوي چې د کوچني اختر څخه مخکې (جولای ۳۱)، هغه د طالبانو لخوا یو پیغام ترلاسه کړی و چې هغه ته یې د غونډې لپاره بلنه ورکړې وه. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د اګست په ۱۹مه، د سولې چارو فعال او د پوهنې وزارت یو لوړ پوړی کارمند ډاکټر عبدالباقي امین د هغه په موټر پورې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله د کابل په ښار کې ووژل شو. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

- د اګست په ۲۲مه، وسله والو د سولې فعال او قومي مشر حاجي محمد نبي د ګردیز په ښار کې په ډزو وواژه. هغه د ۲۰۲۰ کال د اګست په ۷-۹ مه په کابل کې د سولې په مشورتي جرګه کې برخه اخیستې وه. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.

## خبریالان او د رسنیو کارکوونکي

- د جنوري په ۲مه، پولیسو د صفر محمد اتل (د سمون راډیو نطاق) جسد د لښکرګاه په ښار کې وموند. د جنوري په ۲مه، پولیسو د صفر محمد اتل (په سمون راډیو کې نطاق) جسد د لښکرګاه په ښار کې وموند. د برید مسوولیت چا په غاړه وانخیسته.
- د می په ۵مه، د فیروزکوه په ښار کې، د پولیسو او لاریون کونکو ترمنځ د نښتو پرمهال د تصادفي ډزو له امله د راډیو یو رضاکار احمد خان نوید ووژل شو. لاریون په غور ولایت کې د بشري مرستو غیر عادلانه ویش له امله ترسره شوې و.
- د می په۳۰مه، د کابل په ښار کې، د سړک د غاړې ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د وچاودیدلو له امله د خورشید تلویزیون خبریال میر وحید شاه "ضمیر" امیري او تخنیکي همکار یې شفیق ذبیح امیري ووژل شول. داعش ډلې د برید مسؤلیت په غاړه واخیسته.

# د سولې په ارمان

## د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې د بشري حقونو د مدافعینو، خبریالانو او رسنیو کارکونکو وژنه


*کله چې مور ووژل شو، یو ټویټ راپسې وشي او نور د خلکو هیر شو.*
*یوازینی بدلون چې د سولې پروسې لاندې د افغانانو په ژوند کې راغلی هغه دا دی*
*چې مخکې دوی پوهیدل چې د دوی قاتلین څوک دي، خو اوس دوی نه پوهیږي.*

***شهرزاد اکبر***
*د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون رئیسه*
*نیویورک تایمز، ۷ جنوری ۲۰۲۱*

*د افغان د سولې د خبرو پیل ونتوانید د هغه تاوتریخوالې کچه راکمه کړي چې د اوږدې مودې راهیسې یې تمه کیده، او د زیات شمېر افغانانو نیک بېنانه هیلې یې په مایوسې بدلې کړې. په حقیقت کې، د مذاکراتو پیل د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو پر وړاندې نا امني لا زیاته کړې. د هدفي وژنو هغه څپه چې په دوحه کې د افغانستان د سولې د خبرو د پرانېستولو وروسته دوره کې شاهد و، د پام وړ دی.*

*لومړي دا د هدفي وژنو په شمېر کې د چټک زیاتوالی ښکارندوی دی، چې دواړه د بشري حقونو مدافعین او خبریالان په هر معادل دوره کې اغیزمن کړي او په دغه راپور کې په تېرو دریو کلونو کې څېړل شوی. دویم، په زماني لحاظ په یوه محدوده موده کې د ټول افغانستان په زیات شمېر سیمو کې د آشنا او په نبغه ویونکو د مدني ټولنو د مشرانو (د کابل ښار د زرغون سیمې په ګډون) قصدي په نښه کول، او همدارنګه د هیڅ یوې ډلې له خوا د مسوولیت د منلو د نشتون له امله، د هیواد د ملکي وګړو په منځ کې په یو بېساري ډول سره د ډار یو چاپېریال رامنځته کړی دی. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۲ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۳۱ نېټې تر منځ موده کې یوناما د بشري حقونو د مدافعینو پنځه تنه چې په عمدي ډول په نښه او وژل شوي دي، ثبت کړي دي. په ټولو پنځو هدفي وژنو قضیو کې (د یوې ښځې په ګډون) د سپکو وسلو څخه کار اخیستل شوې دی. د هیڅ کومې قضیې په اړوند چا مسوولیت ندی منلی.*

*د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر د ۱۲ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۳۱ نېټې تر منځ موده کې یوناما د شپږ تنو خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو وژل ثبت کړي دي. د دوی څلور تنه، (د یوې ښځې په ګډون) په ډزو وژل شوي او دوه تنه نور په داسې بریدنو کې وژل شوي دي چې د دوی په موټرانو پورې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي نښلول شوې دې. د دې پېښو له جملې څخه د یوې پېښې په اړوند مسوولیت منل شوی دی: د راپور له مخې، د داعش ډلې د خراسان څانګې په جلال آباد کې د خبریالې ملالی میوندي او د هغې د موټروان د وژلو مسوولیت په غاړه واخیست. د نورو قضیو په اړوند هیڅ ډول مسوولیت ندی منل شوی.*



## د بشري حقونو مدافعين

- د اکتوبر په ۲مه، وسله والو د بشري حقونو مدافع سيد حيدر هاشمي د پل علم په ښار کې په ډزو ووژه. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته.
- د دسمبر په ۲۳مه، وسله والو يوسف رشيد د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د موسسې اجرايوي رئيس د کابل په ښار کې په ډزو ووژه. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته. د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۹مه، د کورنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې په بريد کې ښکيل مشکوک کسان يې نيولي دي.
- د دسمبر په ۲۴مه، وسله والو کسانو د مدني ټولنې فعاله فرشته کوهستاني د کاپيسا ولايت د حصه اول کوهستان ولسوالۍ په ده نو کلي کې په ډزو ووژله. مدني ټولنې او رسنيو څرګنده کړه چې کوهستانۍ مخکې د ګواښونو په اړه په خپل ټولنيز حساب کې ليکلي و. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته. د دسمبر په ۲۸مه، امنيتي چارواکو راپور ورکړ چې په بريد کې ښکيل مشکوک کسان يې نيولي دي.
- د دسمبر په ۳۱مه، پوليسو د مدني ټولنې فعال عابد جاهد د کابل په ښار کې مړی (د راپورونو له مخې د ډزو ټپونو سره) وموند. جاهد، د بغلان ولايت څخه او په افغانستان کې د سني هزاره خلکو د عمومي شورا غړی و، چې د راپورونو له مخې پدې وروستيو کې د خپل اصلي ولايت د نا امنيو له امله کابل ښار ته کډه شوی و. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته.
- د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۲۱مه، وسله والو د مدني ټولنې فعال عادل ننګ د ګرديز په ښار کې په ډزو ووژه. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته.

## خبريالان او د رسنيو کارکوونکي

- د نومبر په ۷مه، د کابل په ښار کې، د نورو قربانيانو په ګډون د طلوع نيوز د ژورناليست يما سياوش هغه مهال ووژل شو چې د هغه په موټر پورې نښلول شوي تعبيه شوي چاوديدونکي توکي وچاوديدل. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته. د دسمبر په ۲۸مه، امنيتي چارواکو راپور ورکړ چې په بريد کې ښکيل مشکوک کسان يې نيولي دي.
- د نومبر په ۱۲مه، د لښکرګاه په ښار کې، خبريال الياس نوري هغه مهال ووژل شو چې د هغه په موټر پورې نښلول شوي تعبيه شوي چاوديدونکي توکي وچاوديدل. هغه په تيرو وختونو کې د طالبانو لخوا ګواښونه ترلاسه کړي وو. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيسته.
- د دسمبر په ۱۰مه، په جلال آباد ښار کې، په يوه ريکشا سپرو وسله والو بريدکوونکو د ښځو د حقونو فعالې ملالۍ ميوند او د انعکاس تلويزيون ډرايور طاهر خان په ډزو ووژل. داعش ډلې د بريد مسؤليت په غاړه واخيست. د دسمبر په ۲۸مه، امنيتي چارواکو راپور ورکړ چې په بريد کې ښکيل مشکوک کسان يې نيولي دي.
- د دسمبر په ۲۱مه، په غزنی ښار کې په موټرسايکل سپرو وسله والو د غزني د خبريالانو د ټولنې رئيس رحمت الله نيکزاد په ډزو ووژه. د بريد مسووليت چا په غاړه نه دی اخيستی. د دسمبر په ۲۸مه، امنيتي چارواکو راپور ورکړ چې په بريد کې ښکيل مشکوک کسان يې نيولي دي.
- د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۱، په فيروزکوه ښار کې ، وسله والو د بشري حقونو مدافع او د راډيو خبريال بسم الله عادل ايماق په ډزو ووژه. په نومبر کې، هغه په ټولنيزو رسنيو کې پوسټ کړی و چې د هغه په کور او موټر بريد شوی دی. د بريد مسووليت چا په غاړه وانخيست.

# لومړۍ ضمیمه: د نړیوال بشري حقونو معیارونه

## د ژوند حق

***د بشري حقونو نړیوال قانون***

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون ۶ (۱) ماده کې داسې لیکل شوي: "هر انسان ذاتاً د ژوند حق لري. دا حق باید د قانون په واسطه خوندي شي. هیڅوک به خپل سر له خپل ژوند څخه باید بې برخې نشي. "

د احتمالي غیرقانوني مړینې تحقیق (۲۰۱۶)[12] د منیسوټا پروتوکول د احتمالي غیرقانوني مرګ په تحقیق کې د کړنې یو عام معیار ټاکلې، د هغو حالاتو په شمول چې دولت د غیر دولتي اشخاصو د حتمي بهرني ګواښ یا تاوتریخوالي پروړاندې د فرد یا افراد د مخنیوي لپاره د احتیاط څخه کار نه اخلي(۲ پاراګراف (ج)).

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټې په خپل ۳۶ عمومي تبصره[13] کې د مادې وروستۍ تازه تفسیر وړاندې کړی دی. په ځانګړې توګه:

- د ژوند حق د فسخ کولو وړ نه دی ، حتی د وسله والې شخړې او نورو عامه بیړني حالتونو کې چې د ملت ژوند ګواښي (۲ پاراګراف).
- د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون غړي هیوادونه مکلف دي چې د ژوند حق درناوی او تضمین کړي، د مقننه او نورو اقداماتو له لارې دې ته عملي بڼه وکړي، او د ژوند له حق څخه سرغړونې ټولو قربانیانو ته د خسارې مؤثر جبران ورکړل شي (۴ پاراګراف).
- غړي دولتونه باید د اشخاصو یا سازمانونو له لخوا د زیانونو په وړاندې د افرادو د ژوند د ساتنې لپاره له ډیر پام څخه کار واخلي، هغه اشخاص یا سازمانونه چې چلند یې دولت ته منسوب نه دی. مکلفیت یې په معقول ډول د وړاندوینې وړ ګواښونو او د ژوند ګواښونکي حالتونو پورې غزول کیږي چې په پایله کې یې  ژوند د لاسه ورکول کیږي. غړي دولتونه ممکن د ۶ مادې سرغړونې سره مخ وي که چیرې دا ډول ګواښونه او حالات د ژوند د له لاسه ورکولو پایله ونلري (۷ پاراګراف).
- غړي دولتونه اړ دي چې د قانون پواسطه د ژوند د محرومیت د مخنیوي لپاره لازم موسسات او کړندلاري رامنځته کړي. همدارنګه غړي دولتونه اړ دي چې د ژوند د غیرقانوني محرومیت احتمالي قضیو پورې اړوند د تحقیق او عدلي تعقیب، د سزا ټاکلو او د خسارې بشپړ جبران چمتو کول لپاره کړندلارې ایجاد کړي. (۱۹ پاراګراف).
- غړي دولتونه د لازم پام کولو (due diligence) د مکلفیت پراساس د افرادو او نهادونو لخوا ژوند ته د پام وړ احتمالي خطر په ځواب کې، باید مناسب مثبت اقدامات غوره کړي، هغه افراد او نهادونه چې کړنې یې کوم دولت ته نه منسوب کیږي لکه د مسلحو یا تروریستي ډلو په ګډون مجرمین او سازمان یافته یا ملیشه ډلې (۲۱ پاراګراف).

---

[12] د منیسوټا پروتوکول د فرا قانوني، خپل سري او چټک اعدامونو مؤثره مخنیوي په اړه د ملګرو لارښود (۱۹۹۱)  یوه تجدید شوې نسخه ده، کوم چې په اصل کې د فرا قانوني، خپل سري او چټک اعدامونو د مؤثره مخنیوي او تحقیقاتو لپاره د ملګرو ملتونو د اصولو د تکمیل لپاره چمتو شوی و. د ملګرو ملتونو اصول، کوم چې د غیرقانوني مرګ د مخنیوي او د احتمالي غیرقانوني مرګ د تحقیق لپاره نړیوال قانوني معیارونه ټاکلي، د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورا (د ۱۹۸۹ کال د مې میاشتې د ۲۴ نیټې پریکړه لیک) لخوا تود هرکلی شوی او د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې لخوا تایید شوی دی. مجلس (د ۱۹۸۹ کال د دسمبر۹ نیټه، ۱۶۲/۴۴ ګڼه  پریکړه لیک). د منیسوټا پروتوکول په ۲۰۱۶ کې بیا وکتل شو او په https://www.ohchr.org/EN/Issues/Exections/Pages/RevisionoftheUNManualPrerationExtraLegalArbitrary.aspx (وروستی ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروری په ۱۴ نیټه ورته مراجعه شوې و) موندلی شئ.

[13] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیټه، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۶ مادې (د ژوند حق) په اړه ۳۶ عمومي تبصره (۲۰۱۸)، د ملګرو ملتونو سند، CCPR/C/GC/36 د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۳۰ نیټه.

- غړي دولتونه اړ دي چې د هغو اشخاصو په وړاندې د محافظت ځانګړي تدبیرونه غوره کړي چې د زیان منځي په حالت کې قرار لري، کوم چې ژوند یې د ځانګړي ګواښونو یا د تاوتریخوالي دمخه موجوده نمونو له امله په ځانګړي خطر کې اچول شوی وي. په یادو اشخاصو کې د بشري حقونو مدافعین او خبریالان هم شامل دي. د ځانګړي تدبیرونو لکه د ۲۴ ساعتونو لپاره د محافظتي پولیسو ګمارل، د احتمالي بریدګرو په وړاندې محافظتي او محدود کوونکي اوامر صادرول، او په استثنایي قضیو کې، او یوازې د ګواښ شوي فرد د آزاد او باخبره رضایت په صورت کې، د محافظتي ساتنې په کارولو سره، غړي دولتونه باید د اشخاصو د ساتنې لپاره عاجل او مؤثر غبرګون وښیې چې د یو ځانګړي ګواښ سره مخ دي. (۲۳ پاراګراف).

- غړي دولتونه اړین دي، چې دوی د ژوند له احتمالي غیرقانوني محرومیتونو څخه خبر وي یا باید خبر شوي وای، ترڅو د مینیسټا پروتوکول په ګډون د اړوندو نړیوالو معیارونو سره سم دا ډول پیښې تحقیق کړي او که چیرې مناسبه وي، نو ورته پیښې باید تر عدلي تعقیب لاندې راولي. همدغه راز، غړي دولتونه ډاډ ترلاسه کړي چې مسؤل کسان عدالت ته راوړل کیږي، حساب ورکونه وهڅول شي او د معافیت مخنیوی وکړي، د عدالت انکار څخه مخنیوی وکړي او د تکراري سرغړونو د مخنیوي لپاره د کړند لارو او پالیسیو اصلاح کولو لپاره اړین اړینو پایلو ته ورسیږي(۲۷ پاراګراف).

- د ۶ مادې څخه د سرغړونې تورونو په اړه تحقیقات باید تل خپلواک، بې پرې، ګړندي، بشپړ، مؤثره، معتبر او شفاف[14] وي. همدرنګه غړي دولتونه مکلف دي چې په راتلونکي کې د ورته سرغړونو د مخنیوي لپاره اقدامات غوره کړي. غړي دولتونه باید د تحقیق په اړه اړوند توضیحات د قرباني نژدې خپلوانو ته هم افشا کړي، هغوی ته اجازه ورکړي چې نوي شواهد وړاندې کړي، هغوی ته په تحقیق کې قانوني دریځ ورکړي، او د تحقیق شوي ګامونو او د تحقیقاتو موندنو ، پایلو او وړاندیزونو په اړه عامه معلومات چمتو کړي. یادې ټولې کړنې د مطلق لازمي اړونده سمونونو تابع دي چې د خلکو ګټو یا د مستقیم تاثیر درلودونکو اشخاص قانونی حقونو او محرمیت ساتلو لپاره د یوې ضروري اړتیا سره سم توجیه کیږي (۲۸ پاراګراف).

- ۶ ماده د غړو دولتونو مکلفیتونه هم تقویه کوي ترڅو د غچ اخیستنو په وړاندې د هغو افرادو ساتنه وکړي کوم چې د بشري حقونو د ترویج او بشري حقونو په پوهاوي او ساتنه کې فعالیت او هڅه کوي. غړي دولتونه باید د مرګ ګواښونو ته ځواب ویلو لپاره او د بشري حقونو مدافعینو ته د بشري حقونو دفاع لپاره د خوندي او فعال چاپیریال رامنځته کولو او ساتنې پشمول، د مناسب محافظت چمتو کولو لپاره اړین اقدامات ترسره کړي، (۵۳ پاراګراف).

- پورتني معیارونه په هغو قضیو پورې هم اړوند دي چیرې چې وسله وال غیر دولتي ډلې واک لري او مسؤلیت لري د ژوند حق ته درناوی وکړي او د هر ډول سرغړونو جبران وکړي چې دوی یې لامل کیږي یا چې د سرغړونې په ترسره کولو کې مرسته کړې وي[15].

### نړیوال بشردوستانه قانون

د یوناما په آند د افغانستان وضعیت د یو شمیر غیر بین المللي وسله والو شخړو لخوا مشخص شوی دی[16]. د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې ، په غیر نړیوال وسله وال جنګ کې د ملکي وګړو وژنه منع ده. د ژنو کنوانسیونونو ۳ مشترکې مادې "د ژوند او شخص پرورړاندې تاوتریخوالی، په ځانګړي توګه د ملکي وګړو او له کاره ولیدلې نظامي افرادو هر ډول وژنه" منع کړی.

د نړیوال جزایی قانون پر اساس او د نړیوالې جزایی محکمې د اساسنامې د ۸ (ج) (ح) مادې په رڼا کې د غیر نړیوال وسله والې شخړې په ارتباط، د هغو اشخاصو وژنه چې په خصومتونو کې هیڅ ډول فعاله برخه نه اخلې، جنګي جنایت ګڼل کیږي.

---

[14] همدارنګه، د منیسوټا پروتوکول، ۲۲-۲۳ پاراګرافونه وګورئ.

[15] د غزې شخړې په اړه د ملګرو ملتونو د حقیقت موندنې ماموریت راپور، د ملګرو ملتونو سند، A/HRC/12/48، د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر ۲۵ نیټه، ۱۸۳۶ شمیره پاراګراف، وګورئ.

[16] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ملکي خلکو د ساتنې په اړه د یوناما راپورنه وګورئ چې په دغه لینک کې شتون لري: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

### د بشري حقونو مدافعین

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ۱۹۹۸ کال د دسمبر په ۹ نیټه (۱۴۴/۵۳ ګڼه پریکړه لیک) د افرادو ، ډلو او د ټولنې د غړو د حقونو او مسؤلیت په اړه یوه اعلامیه تصویب کړه چې په نړیواله کچه پېژندل شوې د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو ته وده ورکړي او ساتنه یې وکړي (په عام ډول د بشري حقونو د مدافعینو اعلامیه یادیږي).

- ۲، ۹، ۱۲، ۱۴ او ۱۵ مادې د ټولو بشري حقونو ساتنې، وده او تطبیق لپاره د دولتونو مسؤلیت ته اشاره کوي؛ تر څو ډاډ ترلاسه شي چې ټول وګړي د دوی تر واک لاندې سیمو کې د دې وړتیا لري چې په عمل کې له ټولو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نورو حقونو او آزادیو څخه برخمن شي؛ ترڅو داسې قانوني، اداري او نورو ګامونو پورته کړي چې د حقونو او آزادیو د مؤثره پلې کیدو ډاډ ترلاسه کولو لپاره اړین وي ؛ ترڅو د هغو اشخاصو لپاره د یوې مؤثره د خسارې جبران چمتو کړي چې ادعا کوي د بشري حقونو د سرغړونې له امله قرباني شوي دي؛ ترڅو له بشري حقونو د ادعا شوې سرغړونې په اړه عاجل او بې پرې څیړنې ترسره کړي؛ تر څو ټول ضروري تدبیرونه غوره کړي او اطمینان ترلاسه کړي چې هر فرد د هرډول تاوتریخوالي، ګواښونو، غچ اخیستنې، منفي تبعیض، فشار یا کوم بل خپل سري عمل پرواړاندې ترې ساتنه وکړي چې د هغو حقونو د استعمال له امله ورسره مخ شوې  چې په اعلامیه کې ذکر شوي؛ ترڅو د مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه د عامه پوهاوي لوړ کړي؛ تر څو د بشري حقونو د ترویج او ساتنې لپاره خپلواک ملي نهادونو لکه د تفتیش عالي اداره یا د بشري حقونو کمیسیونونه، د رامنځته کیدولو څخه ملاتړ وکړي او ورته وده ورکړي؛ او د رسمي زده کړې او مسلکي روزنې په ټولو کچو کې د بشري حقونو ښوونې وده او ورته آسانتیاوې برابرې کړي.
- د اعلامیې ۱، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۱ او ۱۲ مادې په نړیواله او ملي کچه د ساتنې د غوښتنې حق او د بشري حقونو د تحقیق پشمول د بشري حقونو مدافعینو ته ځانګړي محافظتونه یادوي. نور حقونه الکه د بشري حقونو کار په انفرادي ډول او د نورو سره په همکارۍ ترسره کول؛ د اتحادیو او غیر دولتی سازمانونو جوړول؛ په سوله ییزه توګه سره راټول یا راټول کول؛ د بشري حقونو پورې اړوند د معلوماتو غوښتل، اخیستل، ترلاسه کول او ساتل؛ د بشري حقونو نوي نظرونو او اصولو ته وده ورکول او پرې بحث کول او د هغوی د قبلولو لپاره دادخواهی کول؛ د حکومتي ارګانونو ، ادارو او سازمانونو ته چې د عامه چارو د انتقاد او پروپوزلونو سره اړوند دي د دوی د فعالیت ښه کولو لپاره وړاندیزونه وړاندې کړي او د دوی د کار کوم اړخ ته توجه راجلب کول چې د بشري حقونو د تحقق مخنیوی کوي؛ د رسمي پالیسیو او بشري حقونو پورې اړوند کړنو په اړه شکایتونه کول او دا ډول شکایتونه بیاکتل شي؛ د بشر د حقونو په دفاع کې مسلکي وړ حقوقي مرستې یا نورې مشورې او مرستې وړاندې کول او چمتو کول؛ په علني او عامه استماعییو غونډو او محاکمو کې برخه اخیستل ترڅو د ملي قانون او د بشري حقونو نړیوالو مکلفیتونو سره د دوی مطابقت ارزونه وکړي؛ د غیر دولتي او بین الحکومتی سازمانونو سره د پرته له مانع لاسرسي او له هغوی سره ارتباط نیول؛ د خسارې مؤثره جبران څخه ګټه پورته کول؛ د بشري حقونو د مدافع دندې یا مسلک قانوني ترسره کول؛ د قانون پراساس د مؤثره محافظت لپاره چې د سوله ایزو لارو چارو له لارې ، دولت ته منسوب کړنې یا له پامه غورځولو له لارې چې د بشر حقونو څخه سرغړونې لامل کیږي؛ د بشري حقونو د خوندي کولو لپاره د سرچینو غوښتل، لاسته راوړل او ګټه اخیستل (د بهر څخه د پیسو لاسته راوړلو په ګډون).

د ۲۰۰۰ کال په اپریل کې، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون (د ۲۰۰۰ کال / ۶۱ شمیرې د ۲۰۰۰ کال د اپریل میاشتې د ۲۶ نیټې پریکړه لیک) له سرمنشي څخه وغوښتل ترڅو د اعلامیې پلي کیدو څخه نظارت او ملاتړ لپاره د بشري حقونو مدافعینو لپاره ځانګړی استازی وټاکي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، له تاسیس څخه تر د دې دمه، ډیری پریکړې تصویب کړې چې د مدني فضا په اهمیت او د بشري حقونو په ترویج کې د بشري حقونو د مدافعینو په رول ټینګار کوي[17].

[17] په دغه لینک کې یو لیست وګورئ https://www.ohchr.org/EN/Issues/SRHRDefenders/Pages/Resolutions.aspx (په وروستي ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري په ۱۴ نیټه ورته مراجعه شوي و)

***د نظر او بیان آزادي***

د نظر او بیان د آزادي حق په یو شمیر نړیوالو او سیمه ایزو بشري حقونو اسنادو کې تسجیل شوی، د بیلګې په توګه، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (۱۹ ماده).[18]

دغه حق مطلق ندی او د قانونیت، اړتیا، تناسب او غیر تبعیض د اصولو پر بنسټ محدود کیدی شي. هر ډول محدودیتونه چې د یادو اصولو پر اساس نه وي، هغه ناقانونه محدودیتونه بلل کیږي. د محدودیت شرایط دا دي "د نورو د حقونو یا شهرت درناوی؛ د ملي امنیت یا د عامه نظم ساتنه ("عامه نظم") ، یا د عامې روغتیا یا اخلاقو ساتنه. "

[18] په ۱۹ ماده کې داسې لیکل شوي دي: "۱. هرڅوک حق لري د مداخلې پرته خپل نظر بیان کړي. ۲. هرڅوک د بیان د آزادۍ حق لري. پدې حق کې باید په لفظي ډول، په لیکلو او یا چاپي بڼه یا د هغه خوښې کومې بلې رسنۍ له لارې د هرډول معلوماتو او نظریاتو د غوښتلو، ترلاسه کولو او وړاندې کولو آزادي شامل وي، پرته له کوم محدودیت څخه .۳. د دې مادې دویم پاراګراف کې ذکر شوي د حقونو کارول د ځانګړي دندې او مسؤلیتونه سره مل دي. نو له همدې امله یاد حقونو ممکن د یو څه محدودیتونو تابع وي، مګر یاد محدودیتونه یوازې د قانون له مخې او د ضرورت په صورت کې وضع کیږي: (الف) د نورو حقونو او شهرت ته درناوی لپاره؛ (ب) د ملي امنیت یا عامه نظم ساتنې لپاره ('عامه نظم)، یا د عامې روغتیا یا اخلاقي مسایلو له امله.

# دویمه ضمیمه: ملی چوکاټ

### حقوقي چوکاټ

افغانستان د بشر د حقونو د نهو اساسي او مهمو تړونونو څخه په اوو هغو کې غړیتوب لري: د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو نړیوال میثاق؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق؛ د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون؛ د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون؛ د شکنجې او نور ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي څخه چلند یا جزا پروړاندې کنوانسیون؛ د ماشوم د حقونو کنوانسیون؛ او د معلولینو د حقونو کنوانسیون[19]. افغانستان د کډوال کارګرانو او د هغوی د کورنیو د غړو (CMW) د حقونو د ساتنې نړیوال کنوانسیون او له اجباري لادرکه کیدو څخه د ټولو افرادو د ساتنې لپاره نړیوال کنوانسیون غړیتوب نلري.

د نظر او بیان، تجمع او لاریون د حقونو اړونده قوانینو سربیره د افغانستان د اساسي قانون (۲۰۰۴) په ۳۴-۳۶ مادو کې تصریح شوي دي:

- د انجمنونو قانون (۲۰۱۳) ، او همدارنګه مدني کود (۱۹۷۷)؛
- د غونډو ، اعتصابونو او مظاهرو قانون (۲۰۱۷)؛
- د غیر دولتی سازمانونو قانون (۲۰۰۵)؛
- د ډله ایزو رسنیو قانون (۲۰۰۹، په ۲۰۱۵ کې تعدیل شوی)؛
- معلوماتو ته د لاسرسي قانون (۲۰۱۹).

### پالیسي او میکانیزمونه

د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۱۹مه، د بخښنې نړیوال سازمان په مشرۍ د ۳۲ غیر دولتي مؤسسو یوې ټلوالې د افغانستان د بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې لپاره د یوې ستراتیژۍ د طرحه کولو وړاندیز وکړ. دغه ستراتیژي د بشري حقونو د مدافعینو لپاره د ساتنې، تحقیق، راجع کولو، نقل مکان او رواني ټولنیز ملاتړ پورې اړوند مسلو په اړه د حکومت لپاره د لارې نقشې په توګه وکارول شي او د دولت او مدني ټولنې په ګډون د یو ګډ کمیسیون د رامنځته کیدو غوښتنه یې کړې وه.

د ۲۰۲۰ کال د دسمبر په ۱، ولسمشر غني **د بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې لپاره د ګډ کمیسیون** د جوړولو فرمان صادر کړ. دا کمیسیون د ولسمشر د دوهم مرستیال په مشرۍ رهبري کیږي او د لوېې څارنوالۍ، د عدلیې، کورنیو چارو او ښځو چارو وزارتونو استازو، د بهرنیو چارو وزارت معین، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون رئیس، د ملي امنیت عمومي رئیس او د سیمه ییزې حکومتدارۍ خپلواکې اداري رئیس، او همدارنګه د ولسمشر دفتر د عدلي او قضایی چارو استازي او د مدني ټولنې اړوند سازمانونو استازي یې غړیتوب لري. کمیسیون ته دنده سپارل شوې چې "د بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې لپاره یو هراړخیز پلان جوړ کړي، د افغانستان دننه او بهر د بشري حقونو د سازمانونو نظرونه ترلاسه کړي، او د بشري حقونو د مدافعینو شکایتونو او وړاندیزونو ته رسیدګي وکړي." یاد کمیسیون به د قانون او حاکمیت عالي شورا ته راپور ورکړي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د یاد کمیسیون د دارالانشاء په توګه کار کوي.

[19] د لا زیاتو معلومات لپاره، دغه لینک ګورئ (چې په وروستي ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري په ۱۴ نیټه ورته مراجعه شوې و) https://tbinternet.ohchr.org/_layouts/15/TreatyBodyExternal/Treaty.aspx?CountryID=1&Lang=EN

**د خبریالانو د خوندیتوب او امنیت لپاره ګډه کمیټه** په ۲۰۱۶ کال کې جوړه شوه. کمیسیون مشري د ولسمشر دوهم معاونیت په غاړه لري او د امنیتي بنسټونو، قضایه قوې، خبریالانو او د رسنیو د ملاتړ ډلو استازي پکې شامل دي. ورته جوړښت د ولایت په کچه شتون لري.

د مدني ټولنې پورې اړوند، د افغانستان د بشري حقونو د مدافعینو کمیټه د دادخواهۍ ټلوالې په ټوګه فعالیت کوي چې پر دادخواهۍ او ساتنې باندې تمرکز کوي. په یاده کمیټه کې له ۴۰ څخه ډیر د بشري حقونو ډلې او افراد غړیتوب لري چې د هیواد په کچه فعال دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د اروپایي اتحادیې پلاوی او یوناما د څارونکو په توګه د یادې کمیټې په غونډو کې برخه اخلي. د یادې کمیټې لید د یوې افغاني ټولنې وده ده چیرې چې حقونو او آزادیو ته درناوی کیږي او چیرې چې هغه افراد د دغو ارزښتونو ترویج لپاره کار کوي، د خوندي کاري چاپیریال څخه خوند اخلي.

# دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې[20]

**د بشري حقونو مدافع**: هر هغه څوک چې په انفرادي ډول یا د نورو سره د بشري حقونو د ودې او ملاتړ لپاره کار کوي[21]. د بشري حقونو مدافعانو په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي په دې نظر دي چې هغه ملي ادارې او د هغوی غړې او کارمندان چې د پاریس د اصولو په مطابقت سره فعالیت کوي، د بشري حقونو مدافعین ګڼل کیدی شي[22].

**مدني فضا:** هغه چاپیریال چې خلکو او ډلو ته دا وړتیا ورکوي چې د خپلې ټولنې په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري ژوند کې په معنی لرونکې ډول برخه واخلي. دولتونه هغه قانوني او پالیسۍ فضا منځته راوړي چې خلک پکې یو نظریات څرګندوي، راټولوېږي، تجمع کوی او یو بل سره خبرو اترو کې ښکیل کیږي، او همدارنګه ، د لومړني خدماتو کیفیت څخه تر غوره ادارو او د بنسټیزو آزادیو لپاره درناوي پورې د چاروکو سره د هغو مسلو په اړه ښکېل کیږي چې د دوی پر ژوند اغېزه کوي. د مدني ټولنې فعالین (د بشري حقونو مدافعینو او خبریالانو پشمول) اړتیا لري چې په آزاده توګه خپل نظر په بشپړ امنیت کې څرګند کړي او په سوله ایز او مؤثره  توګه د بدلون لامل شي. یوه متحرکه مدني فضا یو آزاد، خوندي او مصون چاپیریال ته اړتیا لري، چې په هغې کې آنلاین او آفلاین ډارونه، ځورونه او غچ اخیستنه شتون و نلري. د یادې فضا په وړاندې هر محدودیتونه باید د بشري حقونو نړیوال قانون سره مطابقت ولري[23].

**IED**: تعبیه شوي چاودیدونکي توکي. یو وسیله ده چې دودیزې پوځي طریقې په خلاف په نورو طریقو ځای پر ځای یا تعبیه کیږي چې د تخریب کونکي، وژونکي، مضر، اورلګید یا متحرقه  کیمیاوي توکو ترکیب شوې ده او د ویجاړولو، غیر فعال کولو، ځورولو یا انحراف کولو لپاره طرحه او ډیزاین شوې ده. په یاده وسیله کې ممکن نظامي برخې یا اجزا شامل وي، مګر په نورمال ډول د غیر نظامي برخو څخه تشکیل شوي ده. تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (IEDs) په پراخه کچه په څلورو کتګوریو ویشل کیدی شي: د قوماندې په واسطه فعال کیدونکي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ، د قرباني په واسطه فعالیدونکي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، ځان وژونکي (انتحاری) تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، او نور تعبیه شوي چاودیدونکي توکي.

**پیچلې (ډله ییز) برید (Complex Attack) :** قصدي او همغږي شوي برید ته وایې چې پکې د ځان وژونکي وسیلې شاملې دي (د بیلګې په توګه، پر بدن باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي یا د ځانمرګي موټر پواسطه چاودیدونکي IED)، چې له یو څخه ډیر برید کونکي او له یو څخه ډیر ډوله وسیلې (د بیلګې په توګه، پر بدن تړل شوي IEDs او هاوانونه) په کې شتون ولري. ټول درې عناصر باید په برید کې شتون ولري ترڅو  پیچلې برید وګڼل شي.

[20] د اصطلاح ګانو په برخه کې شامل تعریفونه یوازې د دې راپور موخو لپاره کارول شوي دي.

[21] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر دفتر، د بشري حقونو مدافعین: د بشري حقونو څخه د دفاع حق ساتنه، ۲۹ معلوماتي رساله،۲ مخ.

[22] د بشري حقونو د مدافعینو وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور وګورئ.  A / HRC / 22/47، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۱۶ نیټه، ۳۴ پاراګراف.

[23] د ملګرو ملتونو د لارښود یادداشت، د مدني فضا ساتنه او وده، د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر میاشت، ۳ مخ.